

مجاهد

مجاهد مجله

پښتو

۱

مجاهد مجله

علمي، فرهنګي، سیاسي ټولنیزه او جهادي خپرونه

لومړی کال، لومړۍ ګڼه، حمل 1442المریز،

رمضان المبارک 1444ه ق، اپریل 2023 م

له حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه روایت دی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له موږ سره د هند د غزاء او معرکې په اړه وعده کړې وه، که چېرته زه (ابو هریره) پکې شهید شوم، له غوره شهیدانو څخه به یم، او که بېرته غازي راستون شوم، نو زه به آزاد یم.

احمد ابن حنبل، المسند، 2: 228، ګڼه: 7128، قرطبه بنسټ، مصر. الحکیم، المستدرک علی الصحیحین، 3: 588، رقم: 6177،

Iblagh Media

لیکلړ



سر لیکنه

مور څوک یُو!؟

موږ او تاسې وینو چې د اسلام له ابتداء په ځانګړې ټوګه له کلونو او له پیړیو او لسیزو را هیسې د کفر له لوري تمویلېدونکي او د غرب په اشارو چلیدونکي مختلفې استخباراتي ادارې او مغرضې شیطاني او صلیبي کړی همېش دا هڅې او کوششونه کوي چې د اسلام د لارې پاک او سپیڅلي علماء کرام، مجاهدین او جهادي ډلې او تحریکونه په یو او بل نوم بدنام کړي، تهمتونه ور پسې وتړي، او د نړۍ مسلمانان ور باندې بد ګمانه کړي، تر څو غرب او کفار بیا له دې ناوړه حالت څخه خپله ګټه پورته او سوء استفاده وکړي.

که تاریخ مطالعه کړئ، نو پوه به شئ! چې غرب تل هڅه دا کړې، چې د اسلام اساسي احکام په ځانګړې توګه هغه نقاط او ستنې چې کفر ته ترې خطره وي، د اسلامي نظام د قیام ذریعه وي او د نړۍ مسلمانان وحدت او اتفاق ته را دعوتوي، د مختلفو صلیبي او استخباراتي پلانونو او پروژو له لارې له دین څخه د ویستلو کوشش کړی او لا یې هم کوي.

خو پدغې باطلې هڅې او پلان کې د کفارو ډېره توجه بیا جهاد، قتال، هجرت، حدود، قصاص، قانون، سیاست، حکم الله او همدغه شان د الهي حاکمیت او قانون احکامو ته وه/ ده، چې د مسلمه أمت د ځوان نسل د افکارو څخه یې وباسي.

دغه کار چې له دین څخه یاد موضوعات وباسي، کفار پکې ناکام شول، ځکه د تاریخ په اوږدو کې موږ کتلای شو چې همیش رباني علماء کرامو د کفارو د داسې پلانونو او پروګرامونو په وړاندې په ډېره میړانه او شجاعت سره مبارزه کړې ده، هغه که د جهاد په ډګر کې وي، که د تدریس او تصنیف په میدان کې وي او یا هم د دین اسلام په کومه بله څانګه او شعبه کې، البته بد بختانه باید ووایو چې د مسلمه أمت په ځانګړې توګه

زموږ او ستاسې د ټولنې ډېر ځوانان او ملایان د کفارو د دې دسیسې ښکار شول، او د دین اسلام له حقیقي او اصل چوکاټ څخه په یوه او بله لار لاړل.

ځینو یې اسلام په جومات او مدرسه کې منحصر کړ، چا په خانقاه او تصوف کې بند کړ او ځینې پکې د افراط او تفریط له سرحدونو څخه دومره مخکې لاړل چې آن د شرک او تکفیر عقیدې ته پکې ورسېدل.

را به شم خپلې اصلي موضوع ته، هغه دا چې دا ډېر وخت کېږي چې د مختلفو سیاسي او مذهبي ګوندونو، اشخاصو او مختلفو مکتب فکر سره د تعلق لرونکو ټولنیزو فعالانو له لوري په تحریک طالبان پاکستان یا پاکستاني مجاهدینو باندې دا الزام او تهمت لګول کېږي چې ګواکې دوی ټول پنجپیریان دي.

پداسې حال کې چې دا داسې ناروا او مفسد کار هم ندی ځکه چې د پنجپیریانو، دیوبندیانو، سلفیانو او نورو ټولو مسالکو ترمنځ ټول اختلافات په فروعي مسائلو کې دي، نه په اصولي مسائلو کې، او هغه ټول داسې مسائل دي چې نه یې په قبر او آخرت کې له انسان څخه پوښتنه کېږي او نه هم په دنیا کې، ټول خبره په اولی او غیر اولی کې ده.

خو دا چې بدبختانه د مسلمه امت په ځانګړې توګه زموږ او ستاسې د ټولنې ځینې ملایان پدې فروعي اختلافاتو کې دومره وړاندې لاړل چې د ژوند نور ټول کارونه یې ورته پرېښودل، او فقط د یو بل تکفیر او رد ته تیار ناست وي، او په ډېر افسوس سره باید ووایم چې دا کار ورته ډېر ښه هم ښکاري.

او پدې لاره یې له دین څخه د ځان لپاره د مالیاتو یوه سرچینه او منبع جوړه کړې ده.

او په شعوري او غیر شعوري توګه د ملایانو د دې کار څخه غرب او کفار خپله ګټه پورته کوي، چې له امله یې مسلمانان هره ورځ له مختلفو بدبختیو سره مخ دي.

په مختلفو فرقو، ډلو، تنظیمو او پارټیو کې تقسیم شول، چې نتیجه کې ورڅخه د خپل ژوند اصل مقصد پاتې او په فروعي اختلافاتو، ضمني کارونو او خواهشاتو کې ګېر شول او همدا یې د ژوند مهم کار او هدف وګرځاوه.

همدغه وجه ده چې کفارو دې مسئلې ته زور او هوا ورکړه او له همدې چینل څخه یې د مجاهدینو د بدنامولو کوششونه پیل کړل.

نو په همدې خاطر باید ووایم چې جهادي تحریکونه همېش د مسلمه أمت نمایندګي کوي او د جهاد د دې عظیمې فریضې د ادا کولو په لار کې د اسلامي نظام او

خلافت د احياء او قيام لپاره ټول امت راپورته کوي او په همدې لار کې بيا د مشترکه فرضي او واجب هدف لپاره (چې هغه اسلامي نظام دی) د اهل السنة والجماعة په چوکاټ کې د نفاذ کوشش کوي، او د ټولو سني مکاتب فکر سره وابسته ځوانان د علماء کرامو په قيادت او اطاعت کې قرباني ورکوي.

په کومو منطقو، سيمو او علاقو کې چې د کوم مکتب فکر يا مسلک اثر زيات وي، د هغه ځای په مجاهدينو هم هغه اثر وي، مثلاً اسلامي امارت (أعزها الله) دی، دا د ټولو مسلمانانو مشترکه او ګډ کور دی، د ټولې نړۍ د مسلمانانو که هغه عرب دي که عجم، که پښتانه دي که فارسيوانان، که بلوڅان دي که پنجابيان که د لر دي او که بر که د شرق دي او که غرب؛ نو ځکه مو په مثال کې هم اسلامي امارت أعزها الله وړاندې کړ، نو وګورئ د اسلامي امارت تر چتر لاندې سيمو کې چې په کومو منطقو، سيمو او علاقو کې د کوم مسلک او مشرب اثر سوا او زيات دی، د هغه ځای په مجاهدينو هم هغه اثر و او دی، لکه په کنړ او نورستان ولايتونو کې د پنجپيريانو او سلفيانو اثر زيات دی نو په همدې وجه په زياتره مجاهدينو يې هم د دغه دوه مسلکونو اثر دی، او همدغه شان د بدخشان او ننګرهار ولايتونو په په بعضي سيمو کې هم اکثريت مجاهدين د پنجپيريان او سلفيان دي، ځکه هلته په هغه سيمو کې د ياود مسلکونو اثر رسوخ زيات دی.

خو بل طرف ته بيا په عام افغانستان کې د حنفي ديوبندي مسلک قاطع اکثريت دی، نو ځکه د اسلامي امارت أعزها الله قاطع اکثريت هم حنفي ديوبنديان دي او د دار الإفتاء، محکمو، عدالتونو، حکومتي ادارو او په مجموع کې د ټول حکومت د ټولو مذهبي، اقتصادي او سياسي چارو لپاره يې رسمي مذهب او مسلک هم فقه حنفي ده، همدغه شان صورت حال د پاکستاني طالبانو يا تحريک طالبان پاکستان هم دی، چه په کوم ځای کې د کوم مسلک او مشرب اثر دی په مجاهدينو يې هم هغه اثر دی، او ځايي مسلکونو لارويان او مقلدين دي.

دا چې په پاکستان کې هم قاطع اکثريت د حنفی ديوبنديت دی نو طالبان او مجاهدين يې هم اکثريت حنفيان (احناف) دي.

او د تحريک طالبان رسمي، قضايي او د دار الإفتاء مذهب هم د اکابر علماء ديوبند د فهم او تحقيقاتو په رڼا کې حنفي فقه ده.

جنوبي وزيرستان، شمالي وزيرستان او همداراز د خيبرپښتونخوا جنوبي سيمې چه د

تحریک یا ټي ټي پي لپاره حیاتي ارزښت او ستراتیژیک اهمیت لري، او همیش د تحریک مراکز پاتې شوي دا په مطلق ډول دیوبندي حنفي سیمې دي. نو په همدې وجه مجاهدین یې هم په مطلق او کُلي توګه حنفیان دي او د تحریک طالبان اکثره مشران هم د دغه سیمو سره تړاو لري لکه د تحریک طالبان پاکستان بنسټګر او باني شهید بیت الله محسود رح، دوهم مشر شهید حکیم الله محسود (رح) او اوسنی امیر مفتي نور ولي محسود (مفتي ابو منصور عاصم) حفظه الله؛ دغه شان په ټي ټي پي یا تحریک طالبان پاکستان کې د تصوف د مبارکو سلسلو سره تړاو لرونکي خصوصاً د نقشبندیه مبارکې سلسلې متعلق صوفي حضرات او مجاهدین هم په کافي تعداد او زیاته اندازه کې وجود لري او اهم پوستونه او مسؤلیتونه ورسره دي.

نو ځرګنده شوه چې دا خبره د واقعیت خلاف او د جهادِ پاکستان په خلاف د دښمن د استخباراتو یوه پراپیګنده ده، چې د ټي ټي پي والا وهابیان یا پنچپیریان دي.

د ټي ټي پي مذهب، مسلک، سیاست او لائحه هغه دي کوم چې د د اسلامي امارت أعزها الله دي، ځکه چې تحریک طالبان پاکستان یا ټي ټي پي په حقیقت کې کوم مستقل حرکت ندی بلکې د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریک (اسلامي امارت أعزها الله) یو طبعي تمدید او دفاعي شاخ دی.

او هدف مو په ټول پاکستان کې د اسلامي نظام قیام او د اسلامي امارت دفاع او راتګ ته لاره هوارول دي.

او که د تحریک تاریخ، شالید او پس منظر مطالعه شي، نو پدې به پوه شئ چې تحریک د نړۍ د همدې یواځیني اسلامي نظام (اسلامي امارت أعزها الله) په دفاع کې رامنځته شوی او وجود ته راغلی و.

زموږ منشور قرآن او حدیث او اهل السنة والجماعة تګلاره ده، زموږ هر څه د اسلام د مبارک دین او عقیدې په اساس دي، معاملات مو د الولاء والبراء په اساس دي.

الحمدلله په موږ کې پښتانه هم شته، پنجابیان هم، بلوچان هم شته او سندیان هم، ځکه موږ د قومیت په نوم څوک نه پیژنو، زموږ د ملګرتیا اساس اسلام او د الولاء والبراء عقیده ده.

او نه هم تکفیریان یو، الحمدلله ګنې راشئ، له نیږدې څخه موږ وګورئ، پوه به شئ چې موږ څوک یو، څه کوو او ولې یې کوو!؟



۵

د تلبيس ابليس رسوايي

د اسلام او جمهوريت

ترمنځ لنډ توپير)

استاد محمد عمر

څه موده وړاندې د پاکستان يو سياسي مذهبي ګوند مشر مولانا فضل الرحمن په خپله يو جلسه کې د جمهوريت او اسلام په اړه داسې ويلي و چې د جمهوريت او اسلام ترمنځ تقابل نشته، مثال يې داسې دی لکه څوک ووايي، چې اسلام غواړې که خلافت؟ اسلام غواړې که امارت، جمهوريت و خلافت و امارت د نظامِ حکومت نوم دی، قانون ندی.

ګورئ! هره اصطلاح بايد له خپل مصطلح څخه زده شي، له ځانه ګېډور مفاهيم ورته ونه تاکو؛ که د امارت و خلافت معناوې له کوم جمهوري او ډيموکرات څخه غواړو، په غلطه به و، همداراز که د جمهوريت مفهوم له کوم ديني عالم څخه پوښتو، ادرس به مو غلط کړی وي، ځکه صاحب البيت أدرى ما فيه، که د شيانو مفاهيم کما هي درک شي، نو په تمييز کې يې التباس پر مونږ نشي راتلی او نه مو د چا تلبيس دوکه کولای شي. خلافت چې د سياست په ميدان کې يادوو، موخه به مو هغه نظام وي، چې د إلهي حاکميت عقيده يې لومړۍ ډبره ده، د إلهي غوښتنو او لارښوونو د تعميل لپاره، په دنيا کې د الله تعالى يو نائب وي او د هغه په نيابت او خلافت کې پر خلکو واکمني کوي او د ده أحکام جاري کوي.

دغه معنا يې مفسرينو د دې آيت لاندې راوړې ده: **إنا جعلنک خليفة في الأرض**؛ يانې: مونږ په زمکه کې ته (داؤد عليه السلام) خليفه کړې.

نو خلافت يوازې د نظم و ډسپلين (نظام حکومت) نوم ندی، بلکې په زمکه کې د الله تعالى د أوامرو تعميل او په هر کار کې د هغه د لارښوونو مطابق د أحکامو جاري کولو ته خلافت وايي.

په دې اړه د حضرت عمر رضي الله عنه يوې کيسې ته درېږو، چې صراحتاً يې خلافت و جمهوريت جدا جدا مفاهيم بلل شوي او دا نابالغه نظريه ردوي، چې ګواکې خلافت يوازې د نظم و ډسپلين نوم دی.

ده مبارک يوه ورځ ووېل: نه پوهېږم، زه پاچا يم که خليفه؟ د مجلس يو ګډونوال ورته ووېل: أميرالمؤمنينه! د دواړو ترمنځ توپير شته. عمر رضي الله عنه ترې

پوښتنه وکړه، څه توپير يې دى؟ هغه ورته وويل: خليفه هغه څوک دى، چې څه اخلي په حقه يې اخلي او بيا يې د حق پر ځای ايږدي او پاچا هغه څوک دى، چې پر رعيت ظلم کوي، له يوه يې اخلي بل ته يې ور کوي. نو عمر رضي الله عنه چُپ شو.

په حقه اخيستل او ور کول، ياني د الله د لارښوونې او أمر تابع به وي او د دې خلاف کول، پاچاهي بلل کيږي.

اوس د لوی اسلامي فيلسوف او د سياسي فلسفې د امام، ابن خلدون رحمه الله تعريف ته تم کيږو:

حمل الكافة على مقتضى النظر الشرعي في مصالحهم الأخروية و الدنيوية الراجعة إليها. ياني: په أخروي مصالحو کې او په هغو دنيوي مصلحتونو کې چې وروستی پايله يې د آخرت ګټه وي؛ په دواړو کې د شريعت د غوښتنو مطابق د خلکو تيارول، خلافت نوميږي.



إمارت د خلافت دويم نوم دى، يو ډول مفاهيم يې دي، چې د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې د خلافت نوم په إمارت بدل شو، ځکه يې هم أبوبکر صديق رضي الله عنه ته خليفة المسلمين ويل او حضرت عمر رضي الله عنه ته أميرالمؤمنين ويل کيدو؛ خليفة المسلمين له خلافت څخه راوتلې د صفت مشبّه صيغه ده او أميرالمؤمنين بيا له إمارت څخه مشتق دى.

جُمهوريت **(حكم الشعب، لصالح الشعب، بواسطة الشعب)** ته وايي؛ د خلکو حکومت د خلکو لخوا د خلکو لپاره؛ ياني په دې نظام کې د حکومت چارې خلکو ته حواله وي او دا د الله تعالی له ګڼو نصوصو سره مخالفه نظريه ده؛ نو جمهوريت هم يوازې د نظم و ډسپلين نوم ندى، بلکې د داسې قانون نوم دى، چې لومړی اساسي ډبره يې د خلکو د خواهش واکمني او حاکميت دى.

نو لنډه دا چې خلافت و إمارت د اسلامي شريعت د نظام بخش دى او جمهوريت د سيکولرېزم (لادينيت) د نظام و حکومت څانګه ده، چې هر يو د نظام و حکومت په اړه خپل خپل أصول لري؛ يوازې يې نظم و ډسپلين بلل صريح جهل دى.

په دې بايد پوه شو، چې هر نظام يوې مبداء ته مستند وي او خپل نهايي هدف و مقصد لري؛ مقاصد مبداء ته په کتو عملي کيږي، چې مبداء څرنګه وي، مقاصد به يې له مخې منځته راځي.

د اسلامي او جمهوري نظامونو مبادي او مقاصد سره بېل بېل دي؛ ځکه د اسلامي نظام شروع په دې تصور کيږي، چې حاکميت به د الله تعالی وي، خلک به يې پر حاکميت راضي وي او د قانون د پاس کولو اختيار به نلري؛ نهايي هدف و مقصد يې د حدودو قائمول، د کفر له حملو څخه د پولو ساتل دي او

نور......
بالعکس په جمهوري نظام کې مبداء د جمهورو حاکمیت دی او نهایي هدف و مقصد به یې هم د همدې مبداء سره شدید تعلق لري، یعنې د جمهورو (اکثریت) رجحاناتو، تمایلاتو او رأیو ته به کتل کیږي او د هغوی د خواهش مطابق به حکم پاس کیږي، مثلاً کافرانو ته اجازه ورکول چې مدرسې او جماتونه بمبار کړي او د مسلمانانو په خلاف عملیات ترسره کړي؛ په ګاونډي مسلمان هېواد کې د اسلامي نظام د وهلو لپاره یرغلګرو ته لارې او هډې ور کول؛ نخبه مسلمانان امریکایانو ته سپارل، فکراً او عملاً ملک او مسلمان د کفر تر تأثیر لاندې راوستل او هغه هم د جبر او تشدد له لارې، چې دا ټول کارونه په دې بهانه ترسره کوي، چې د ملک او رعیت بچاو راشي او دا ټول کارونه د جمهورو د ممثلینو، من دون الله اربابانو د خواهشاتو له وجې ترسره کیږي.

یانې د جمهوریت اساسي خښته د معاشرې خواهش دی او همدا خښته د جمهوریت په ټولو نوعو کې ایښودل شوې ده؛ که هغه مغربي جمهوریت دی یا اسلامي جمهوریت.

لکه څرنګه چې مولانا فضل الرحمن په دې حقیقت خوله چوله کړې چې: "جمهوریت او ډیموکراسي یانې د عوامو حکومت، حاکمیت خو د الله تعالی دی. خو که د عوامو حکومت څخه مقصود د مغرب او یورپ تصور وي، بیا خو مسترده ده. په هر هېواد کې د جمهوریت لپاره خپل تصور دی، په امریکا کې ځانته په پاکستان کې ځانته په برتانیه کې ځانته، خو نظریه یې یوه ده، چې د معاشرې په خواهش به حکومت جوړیږي".

نو د همدې اساسي خښتې پر أساس دې د اسلامي ډیموکراسۍ دعوت چلونکو او د همدې کتار لوی سربراه او امام مولانا فضل الرحمن ته وویل شي، چې د جمهوریت و ډیموکراسۍ ناولي مفهوم ته که هر څومره د الفاظو ښائسته لباس ور واغوندئ، اسلامي کېدلی نشي؛



حتی که له همدې لارې نه اسلامي أحکام قائم کړئ، دا نظام به صریح کفري وي؛ ځکه په اسلامي جمهوریت کې اسلامي أحکام، په دې خاطر نه عملي کیږي، چې د الله تعالی أحکام دي، بلکې د پارلمان له تأیید څخه وروسته د عملي کولو ورتیا پیدا کوي، چې دا صریح شرک دی.

نو که په یو هېواد کې اسلامي أحکام په بشپړ ډول د دې لپاره تطبیق شي، چې پارلمان یې تأیید کړی او د محترم قانون حیثیت یې ورکړی دی، په دې خاطر نه چې د الله تعالی أحکام دي، بلکې د دې لپاره چې په پارلمان کې یې د

ولس د استازو تأیید حاصل کړی، نو په دې صورت کې به دغه أحکام د اسلام هغه شریعت نه وي، چې الله تعالی یې غواړي، بلکې دا به هم د بل هر بشري لوېدلي قانون حیثیت ولري، چې انسانان په خپلو کې په هغه سره سلا شوي وي، ځکه چې دلته دغه أحکام الله تعالی ته د انقیاد او تسلیمۍ په روحیه نه دي منل شوي او نه یې قداست او په هغو باندې د عمل د ضرورت أمر د الله له طرفه ګڼل شوی، بلکې دلته دغه کار د هغه ناطق بوت او باطل معبود له خوا ترسره شوی، چې پارلمان نومیږي.



یا په بل تعبیر؛ په اسلامي جمهوریت کې د اسلامي أحکامو د تعمیل یا لیکلو لپاره، مبداء او مد نظر اسلام ندی، بلکې عوام دي؛ نو یو خو اسلامي قانون د عوامو تابع شو، لکه خپله چې مولانا فضل الرحمن پر دې حقیقت تصریح کړې ده او ویلي یې دي "مونږ د پاکستان د خلکو د عقیدې او نظریې مطابق قران و سنت بنیاد وګرزولو" او که چېرې راتلونکی نسل کافر وي، نو د دې قانون د کفري کولو حق لري، چې پر همدې أساس جمهوریت په هر شایسته تعبیر کفري دی.

لکه په اخلاقي نظام کې، که یو کافر رښتیا وایي، درواغ قبیح ګڼي، غلا نکوي، خیانت نکوي او نور......

خو بیا هم مسلمان نه ګڼل کیږي، ځکه دی دغه نیک عمل، شریعت ته د انقیاد په روحیه نکوي، بلکې د خپل عقل او خواهش له مخې دې کار ته هڅول شوی دی.

یا مثلاً په فرانسه کې یو وخت د قانون **70٪** برخه، د حضرت امام أعظم أبو حنیفة رضي الله عنه د فقهې مطابق عملي و، نو آیا همدا خاصه برخه به د دې اتفاقي دارالحرب اسلامي ګڼل کېده؟ ځواب منفي دی، ځکه دوی دغه اسلامي حنفي فقه د شریعت له ادرسه نده منلې، بلکې د خپل عقل و خواهش پر أساس یې تسلیم کړې ده.

"جمهوریت او ډیموکراسي یانې د عوامو حکومت، ولې حاکمیت خو د الله تعالی دی. خو که د عوامو حکومت څخه مقصود د مغرب او یورپ تصور وي، بیا خو مسترده ده. په هر هېواد کې د جمهوریت لپاره خپل تصور ده، په امریکا کې ځانته په پاکستان کې ځانته په برتانیه کې ځانته، خو نظریه یوه ده، چې د معاشرې په خواهش به حکومت جوړیږي."

له دې وروسته دا دجالي ملا وایي:

"که معاشره خواهش وکړي، چې نر به له نر سره واده کوي او دا په ډېرو ملکونو کې شته، لیکن په پاکستان کې چې کوم آئین

ليکل شوی ده، په هغې کې يې ليکلي دي، چې:

1: حاکميت أعلى به د الله تعالى وي.

2: مونږ به خپله انفرادي او اجتماعي زندګي د قرآن و سنت د تعليماتو مطابق تېروو.

3: د عوام منتخب خلک به د زمکې پر مخ د الله تعالى د نيابت فرض أداء کوي.

4: اسلام به د پاکستان مملکتي مذهب وي.

5: هر قانون به د قرآن و سنت تابع وي.

نو د دې ليکلو پر أساس ويلى شو، چې د پاکستان جمهوريت مغربي جمهوريت ندی"

خو که د جمهوريت اساسي خښته هېره نشي، د دې مولانا دغه بې روحه الفاظ او جملې مو نشي تېر ايستلى، ځکه همدا په شمار اسلامي أحکام د پارلمان له تأييد وروسته منل شوي، نه په دې خاطر چې د الله تعالى أحکام دي.

بل دا چې مولانا فضل الرحمن د پاکستاني حکومت قانون هغه مواد پټ کړي، چې له اسلامي شريعت سره ډاګيز ټکر لري، لکه پاکستاني حکومت چې سود قانوني ګرزولى، د زناکار سزا يې د مخصوصې آلې غوڅول ټاکلې، حالانکې شريعت وايي، چې الزانية و الزاني فاجلدوا کل واحد منهما مائة جلدة او که محصن وي بيا رجم دی، د غله سزا قانوناً بند او حبس دی او نورې ډېرې کفري مادې لري، خو دلته همدومره کفايت کوي.

بيا دا د زېر پټکي څښتن وايي: "نو که هر څومره اکثريت او معاشره څه وغواړي، خو تر څو پورې چې آئين دا ټکي ليکلي وي، د خلکو غوښتني نه منل کيږي، خو د عمل کولو خبره بېله ده، په دې قانون باندې عمل نشته او د عدم عمل سره د يو نظام کفر نه لازميږي."

که مونږ د هر نظام و حکومت تعريف وګورو، د عمل قيد پکې مأخوذ وي؛ يعنې هر نظام د خپلو قوانينو د تعميل نوم دی، نو يوازې په کاغذ کې ليکل يا نعرې وهل، د يوه نظام مصداق نشي ګرزېدی، تر څو چې عملي نشي، ځکه خپله حکومت، حکم چلولو ته وايي او حکم چلول عين عمل دی؛ نو د يو هېواد د حکومت لپاره چې نوم ور کوو، نو عمل ته به يې ګورو، نه ليکلي آئين ته.

نو که يو نظام ته اسلامي حکومت وايو او د عمل برخې ته يې نه ګورو، صريح تناقض به وي، ځکه يو نظام ته چې حکومت وايو، نو عملي برخه به يې ضرور په نظر کې نيسې، ځکه حکومت وايي عمل ته.

ګورئ، د خلافت په تعريف کې راځي: حمل الكافة على مقتضى النظر الشرعي في مصالحهم الأخروية و الدنيوية الراجعة إليها؛ حمل الکافة د اسلامي شريعت د مقتضى له مخې د ټولو خلکو تيارولو ته ويل کيږي او تيارول عين عمل دی؛ نو د يو هېواد په نظام کې چې دغه

شرط منتفي وي، مشروط چې اسلامي نظام دی؛ هم پورته کيږي، ځکه د شرط له نفې سره د مشروط نفي لازمه ده.

مولانا فضل الرحمن وايي: "......په دې قانون باندې عمل نشته (د عدم عمل سره د يو نظام کفر نه لازميږي) دا داسې مثال لري لکه يو کس چې کلمه ويلې وي، خو په اسلام عمل نکوي، کافر کيږي نه."

د ده موخه د خپل حکومت اسلامي ثابتول دي؛ يعنې د لمونځ او ورته أعمالو په ترک چې څوک نه کافر کيږي، همدا راز د قانون په نه تعميل سره يې هم حکومت کفري نه ګرځي.

خو دا صريح دجل او دوکه ده؛ ظاهراً سړی پرې تېر وځي، خو أصل حقيقت بل څه دی.

ځکه د هر نظام په تعريف کې د عمل قيد مأخوذ دی، چې قانون عملي نه وي، يو حکومت وجود نشي موندلی، مګر د مؤمن په تعريف کې د عمل قيد هغسې أساسي رکن ندی، چې په انتفاء سره يې ايمان له منځه ولاړ شي، بلکې وجود يې ايمان يوازې قوي کيږي، نفس ايمان ور پورې تړلی ندی.

نو بايد اسلامي حکومت په هغه مؤمن ور قياس نشي، چې لمونځ نکوي؛ ځکه د اسلامي حکومت په تعريف کې عمل أساسي رکن دی، وجود يې ور پورې موقوف دی، بالعکس د مؤمن لپاره عمل اساسي رکن نه، بلکې تزييني جزء دی.

مثلاً که اودس په تيمم ور قياسوو او وايو، چې څنګه په تيمم کې نيت شرط دی، همدا راز په اودس کې هم ضرور دی؛ نو صريح به په غلطه و، ځکه د تيمم په تعريف کې قصد و نيت ملحوظ دي، نو نيت ورته شرط بولو، مګر د اودس په مفهوم کې نيت نشته، نو له نيت څخه پرته د اوداسه په أثر (پاکوالي) کې هيڅ نقص نه راځي.

په بل تعبير؛ په دې بايد پوه شو، چې د يو شي يو اړخ د بل شي په بل اړخ هغه وخت قياسولی شو، چې په دواړو شيانو کې همدا اړخونه مساوي مرتبه ولري او د اړخونو مراتب به د همدې شيئينو له أعلامو پوښتل کيږي.

نو مونږ ته پکار ده، چې د قانون د ليکلو درجه له قانون پوهانو وپوښتو او د کلمې ويلو درجه له شريعت وغواړو.

د قانون تش ليکل او د کلمې ويل خورا ډېر توپير لري، ځکه شريعت يوازې د کلمې په ويلو سره ټول دنيوي أحکام لکه جنازه، تکفين، تدفين او دعاء ورته کول ثابتوي خو قانون پوهان بيا يوازې ليکل نه تسليموي او د حکومت په وجود کې هيڅ اعتبار نه ورکوي، تر څو چې عملي اړخ پيدا نکړي.

لکه أهل التصوف چې يوازې لوستل او ليکل د خپل سلوک لپاره کافي نه بولي، عمل يې أصلي رکن يادوي.

بل د اسلامي قانون عملي کول په حکومتي مأمورينو پورې اړه لري؛

که دوی اسلامي قانون عملي نکړي، مونږ یې هم کافران نه بولو، مګر حکومت ځکه کفري دی، چې اسلامي قانون پکې عملي شوی نه دی او قانون پوهان د یو حکومت په اړه د عمل له مخې فیصله کوي.

نو که اسلامي قانون ولیکل شي، خو عملي نشي، د عدم عمل په وجه حکومت کفري ګرځي، خو خلک یې مسلمانان دي؛ ځکه مجموعي حکم ډېر وخت د خپل هر هر فرد په نسبت سره حکماً بېل وي، یعنې د یو هېواد حکومت (مجموعي) او مأمورین یې (د مجموعي أفراد) په کفر کې سره تړلي ندي.

لکه تواتر بقدر المشترک چې جزئاً جزئاً خبر واحد وي، منکر یې کافر نه بلل کیږي، خو په همدې ټولو أخبار آحادو کې بیا کلي معنا یا قدر مشترک د تواتر په درجه کې وي او منکر یې کفر ته وځي؛ مثلاً د رسول الله صلی الله علیه و سلم معجزې، چې هره یوه ځانته ځانته په خبر واحد سره مونږ ته راغلي ده، مګر په دې ټولو کې مشترکه مانا، چې إعجاز النبي ده، متواتر دی او منکر یې کافر ګرځیږي. نو مجموعي حکم ډېر وخت د مجموعي د هر جزء په نسبت سره مخالف وي.

تر ټولو ښه ځواب هغه وخت کولی شو، چې د جمهوریت اساسي خښته مو په نظر کې وي؛ که په جمهوري نظام کې د قانون ټول مواد اسلامي ولیکل شي، بیا هم دا نظام کفري دی، ځکه په هر جمهوریت کې قوانین په دې خاطر نه وضع کیږي، چې مثلاً د الله تعالی أحکام دي، بلکې د پارلمان له تأیید وروسته د عملي کولو یا د محض لیکلو وړتیا پیدا کوي، چې دا صریح شرک دی.

مولانا فضل الرحمن دعوه کړې، چې د قانون ټولې مادې یې اسلامي دي، خو دا یې څرګند درواغ ویلي، ځکه ده په مثال کې څو اجمالي اسلامي مواد بیان کړي دي، خو تفصیلي مادې یې پټې کړي دي، حالانکې هغه ټولې کفري او له محمدي شریعت سره مخالفې دي، چې دلته له سیند څخه یو ځاڅکی راوړو.

د پاکستان په قانون کې د حد و تعزیر توپیر نه دی شوی، ټولې سزاوې یې د تعزیراتو له جملې څخه ګرزولي دي.

تعزیر د وخت د پاچا لخوا مقرره سزا ده او حد په صریح نص ثابتې سزا ته وایي.

مثلاً د پاکستاني حکومت د قانون په 496B ماده کې زنا دوه ډوله ګرزول شوې؛ "یو، په رضا سره: چې ناواده سړی او ښځه په رضا او خوښې زنا وکړي، نو زناکاران دي. سزا یې: تر پنځو کلونو زیات زندان به نه تېروي او تر لس زرو زیاتې روپۍ به نه تاواني کیږي.

دوهمه، په زور و جبر سره زنا: هر کس چې له یوې ښځې سره یو ځای شي، نو په پنځو صورتونو کې جبري زنا بلل کیږي.........؛

سزا يې:

1: مرګ يا د لسو او شلو کلونو ترمنځ زندان او تاوان ورکول.

2: که چېرې زناکاران دوه کسان ول، نو يا به قتلېږي، يا به همېشه زنداني وي.54"

خو د مسلمانانو قانون، قرآن کريم د زناکار او زناکارې سزا په صراحت سره بيان کړې ده: الزانية و الزاني فاجلدوا کل واحدة مائة جلدة. او د متواترو أحاديثو له مخې، د واده کړې زناکار لپاره د رجم بالموت سزا مقرره شوې ده.

په 390 ماده کې د غله او قطاع الطريق سزا د 3–10 کلونو ترمنځ بند ټېرول دي، سخت کارونه پرې کول او مالي تاوان ترې اخيستل دي، او که چېرې يې په عامه لاره کې غلا کړې وه، بيا يې قيد 14 کلونو ته پورته کېږي.56

خو زمونږ غرّا شريعت بيا د غله سزا په واضحو ټکو بيان کړې ده، چې السارق و السارقة فاقطعوا أيديهما....؛ همدا راز د قطاع الطريق د سزا په اړه وايي:



إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ(33) إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ.

د پاکستاني قانون هغه مادې چې مولانا فضل الرحمن يادې کړې، مجملې او مبهمې دي او مونږ يې له مفسّرو او مفصلو مادو څخه څو داني را نقل کړې، نو تفصيل د اجمال په وړاندې قوي حجت وي؛ ځکه د مجادلې او بحث په صورت کې له اجمال څخه کار اخيستل او تفصيل پټول، د مجادِل منافقت را ښيي او په وړاندې يې تفصيل ايښودل، د اجمال منافقت رسوا کوي او بل مبهمه خبره د مُخبَر عنه په اړه پوره ځرګنداوی نشي کولی، تر څو يې چې جزئيات مطالعه نشي.



د استشهاد له منارو
د دیدار تر تلوسو!

لومړۍ برخه

سیف الدین هلال

مازیګر مې ټلیفون ته په ساده نمبر چا مسیج پرېښی و، لیکلي یې وو، چې انسه که وروستی دیدن کوې نو صبا مازیګر د سپینې چینې خواته راشه!

د جومات په برنډه ولاړ وم، لمانځه ته لا لس پنځلس دقیقې پاته وې، له نا پېژنده نمبر څخه راغلي دې مسیج ته بیخي ډېر تعجب وم، سلګونه سوچونه ذهن ته راتلل چې دا به څوک وي، چېرته به ځي چې وروستی دیدن یې دی، نو ماته یې ولې مسیج کړی؟

ملا امام پسې شاته د کلي مؤذن قامت شروع کړ، فکر او سوچ مې بیخي پردی و، ملا صیب چې تکبیر غږ کړ ور روان شوم، تر لمانځه وروسته ځمکې ځای نه راکاوو، څو ځلې مې شمیره اوکې کړه خو نمبر به یې بند شوده، هیڅ نه پوهیدم څه وکړم، کورته راغلم ځان به مې چې په هرڅه مصروف کړ، بیا به مې مسیج ته فکر شو، بیرون ووتلم د خوړ په ژۍ کرار کیناستم، یو نیم موټرسایکل به له خړ ګرد سره تېر شو، زما هیڅ ته هم فکر نه و، د خوست مجاهدین تازه په تشکیل راغلي وو، د غوږونو پر سر به یې زیړ رنګه ګلاب ټومبلی و، عجیبه خوند به یې ورسره کاوو، خاص چې تېرېدل به نو د لاس سلام به مو سره تبادله کاوو، د ماښام تر آذانه همدلته ناست وم، چې آذان وشو، کرار کرار د جومات خواته ورغلم، تر لمانځه وروسته نږدې بازارګوټي ته د څه کار لپاره ښکته شوم، هلته مې بیا شمیره اوکې کړه، ځواب به راغی چې مبایل بند دی، بس صبر مې بیخي نور په ختمېدو و، زړه مې درزېده او پښو مې نور د بدن وزن نشو پورته کولای، ځکه دا لومړی ځل و چې له داسې یو نا آشنا مسیج سره مخ کېدم، رنګ مې الوتی و، ماسخوتن تر ناوخته بیرون وم، چې کله کورته راغلم، ډوډۍ خوړل شوې وه، مورکۍ مې زما برخه په یوه پاستي (کلیوالي ډوډۍ) کې تاو کړې وه، ویل زویه ډېر درته معطل شوو، آخر دې لالا ویل چې راځئ ډوډۍ راوړئ، انس معلوم نه دی چې څه وخت به راشي، له مورکۍ مې مړۍ واخیسته میلمه

خانې ته وختلم، په نه زړه مې څو مړۍ ترې وکړې، حالات بیخي اضطراري وو، نو ځکه د ماسخوتن له مخې جومات ته څوک نه تلل، ډېرى وخت به مجاهدين پکې ډېره ول، د ماسخوتن لمونځ مې ژر ژر وکړ، فکر او سوچ هېڅ نه پرېښودم، تر ډېره ناوخته ويښ وم، ايله مې سترګه پټه شوې وه، سهار چې راپورته شوم، نږدې وو چې لمونځ قضا شي، بس دا ورځ مې په ژوند کې بيخي بېله وه، نه وم خبر چې زما د نوي ژوند د پيل لومړنۍ ورځ ده، تر لمانځه وروسته پټيو ته ولاړم، تر اتو بجو وروسته د ښوونځي نوبت شو، زه په نهم ټولګي کې وم عمر مې ايله پنځلس شپاړلس کاله و، دولس بجې له ښوونځي رخصت شولو، راغلم کور ته، ژر ژر مې مړۍ وخوړله، يو زوړ چينايي بايسکل (سائيکل) مې و چې له مشر وروره راته پاتې و، هغه مې را واخيست، يو ټاير يې لږ کم بادى و، هوا مې ورکړه، شاوخوا يوه بجه وه، چې د مورکۍ مې راباندې پام شو، غږ يې وکړ: **انسه چرته لځيره؟**

ما ورته وويل: چې کورس مو شروع کړى، ورځم چې نن يې ابله اوله ورځ ده، ويل زويه که خرچه نلرې له ماسره پيسې شته، پرون مې لس هګۍ (انډې) خرڅې کړې، ستا ګذاره پرې کېږي، بس يو پنځوسۍ يې په جيب کې را کېښود او ووتلم، سپينه چينه زمونږ له کوره تقريباً نيم ساعت لېرې وه، په بيړه بيړه روان وم، فکر مې بيخي ګډ وډ و، د مسيج د څښتن په اړه مې فکر کاوو، چې دا به څوک وي، چېرته به ځي، کوچنى به وي، مشر به وي،

بيا شيطان بل فکر ذهن ته را واچاوو، هسې نه چا لار درته جوړه کړې وي، مړ دې نکړي، ذاکر خو به دې خبرولو، ذاکر زما کوچنى ورور و، زه او هغه د هرې بدې او ښې ورځې ملګري وو، خو بالاخره چينې ته ورسېدلم، هلته مې اودس وکړ، د چينې پر غاړه د توت ونه وه، سيورى يې ډېر پراخ و، لاندې تخت يې د جاينماز په اندازه چا سيمنټ کړى و، لمونځ مې وکړ، دعا مې وکړه، ورپسې سخت خوب راغى، ساعت ته مې وکتل مازيګر ته درې ساعته وخت پاته وو، سر ته مې ډبره کېښوده او څادر مې راباندې کش کړ، کم ساعت وتلى و، چې په درانه خوب ويده شوى وم، خوب مې ليده، ګورم چې شنې ونې وي، رڼې اوبه او ښايسته نوراني مخلوق پکې ګرځي راګرځي، زه هم پکې روان يم هسې مسکى کېږم، په ژوند مې دا لومړى خوب و چې دومره پکې خوښ وم، څه ساعت به نه وو وتلى چې يو څوک مې د ښۍ پښې له غټې ګوتې ورو ورو ښوروي، انسه و انسه، انسه جګ

شه، سخته غوصه راغله چې دا اوس کوم ناځوانه ده زما دنیا یې را رنګه کړه، چې سترګې مې لوڅې کړې پښو ته مې یو څوک ناست و، په سر یې سپین دسمال و، مخ یې هم ډیر کم ترې ښکارېده، د سعودي کوم نادره عطر یې وهلی و، نرمه او معینه خوشبو ترې تله، لږ ساعت مې ورته کتل چې غږ یې راباندې وکړ: جګ شه چې لمونځ قضا کوې، ژر ژر لاړم اودس مې وکړ، ده ته مې پام نه و، څکه د لمانځه ډیر کم وخت پاتې و، لمونځ مې وکړ، چې سلام مې وګرځاوو، دا ناشنا کس راغی مخې ته په جاینماز راسره کیناست، چې ورته ځیر شوم، زما د اووم صنف ټولګي وال صلاح الدین و، صلاح الدین د مور دوهم زوی و، یو ورور یې کال مخکې شهید شوی و، پلار یې د مجاهدینو یو فعاله ډلګی درلوده، صلاح الدین سره له دې چې په ماشومتوب کې شوخ و، ډیر حیاناک او باجرأته ووړکی و، له خپل پلار څخه یې دیني کتابونه لوستي وو، د قرآن کریم حافظ او زمونږ له لومړني ټولګي څخه تر اووم ټولګي پورې اول نومره و، هر وخت به یې استادانو د لیاقت کیسې کولې، خدای شته مونږ ته به یې په لیاقت رشک راته، د الله ⊠ شان دی، صلاح الدین چې کله د اتم ټولګي لپاره کلنی آزموینه ورکړه، نو د لیسې عمومي اول نومره اعلان شو، سره له دومره لیاقت او ځیرکتیا به کله کله له خپل پلار سره مسلح ګرځېده، او ځینو مجاهدینو به یې کیسې کولې چې دا صلاح الدین له پلار سره کله کله د شپې مخپټې کمین ته راځي، دومره زړور دی، چې ته واه هیڅ مرګ پیژني نه، د صلاح الدین له پلاره به یې ملګرو غوښتنه کوله چې هغه مجاهد د ورځې هم راوله، پلار به یې تنها ورته مسکی شو، را روان کال پسرلی مونږ اتم ټولګی پیل کړ، خو زمونږ حاضري پاتې وه، څکه اول نومره مو نه راتلله ښوونځي ته، له پلار نه یې د لیسې مدیر پوښتنه وکړه چې صلاح الدین ولې نه راځي، پلار به یې ورته ویل چې هغه څه ناروغ دی، د درملنې لپاره یې چرته لیږلی، خو خبر نه و چې صلاح الدنی به نور ښوونځي ته د تل لپاره رانشي، دوه کاله روسته دا دی نن راسره مخ شو، ما ښه په ځیر ځیر ورته کتل، یو دم مې ژړاوو زور واخیست، غیږه مې خلاصه کړه، او دواړه لکه لیوني یو بل ته ور غاړه غړی شوو، ډیر ساعت مو یو بل په غیږ کې کلک نیولي وو، ما ته به یې چې مسیح را په یاد شو، نو ژړا به مې زور واخیست څکه پوهېدم چې نن یې ولې وروستی دیدن دی، پوهېدم چې صلاح الدین داسې لار انتخاب کړې

شه، سخته غوصه راغله چې دا
اوس کوم ناځوانه ده زما دنیا یې را
رنګه کړه، چې سترګې مې لوڅې
کړې پښو ته مې یو څوک ناست
و، په سر یې سپین دسمال و، مخ
یې هم ډیر کم ترې ښکارېده، د
سعودي کوم نادره عطر یې وهلی
و، نرمه او معینه خوشبو ترې تله،
لږ ساعت مې ورته کتل چې غږ
یې راباندې وکړ: جګ شه چې
لمونځ قضا کوې، ژر ژر لاړم اودس
مې وکړ، ده ته مې پام نه و، ځکه
د لمانځه ډیر کم وخت پاتې و،
لمونځ مې وکړ، چې سلام مې
وګرځاوو، دا ناشنا کس راغی مخې
ته په جاینماز راسره کیناست،
چې ورته ځیر شوم، زما د اووم
صنف ټولګي وال صلاح الدین و،
صلاح الدین د مور دوهم زوی و، یو
ورور یې کال مخکې شهید شوی و،
پلار یې د مجاهدینو یو فعاله
ډلګی درلوده، صلاح الدین سره له
دې چې په ماشومتوب کې شوخ و،
ډیر حیاناک او باجرأته ووړکی و، له
خپل پلار څخه یې دیني کتابونه
لوستي وو، د قرآن کریم حافظ او
زمونږ له لومړني ټولګي څخه تر
اووم ټولګي پورې اول نومره و، هر
وخت به یې استادانو د لیاقت
کیسې کولې، خدای شته مونږ ته
به یې په لیاقت رشک راته، د
الله ﷻ شان دی، صلاح الدین چې
کله د اتم ټولګي لپاره کلنی
آزموینه ورکړه، نو د لیسې عمومي
اول نومره اعلان شو، سره له
دومره لیاقت او ځیرکتیا به کله
کله له خپل پلار سره مسلح
ګرځېده، او ځینو مجاهدینو به یې
کیسې کولې چې دا صلاح الدین له
پلار سره کله کله د شپې مخپټی
کمین ته راځي، دومره زړور دی، چې
ته واه هیڅ مرګ پیژني نه، د
صلاح الدین له پلاره به یې
ملګرو غوښتنه کوله چې هغه
مجاهد د ورځې هم راوله، پلار به
یې تنها ورته مسکی شو، را روان
کال پسرلی مونږ اتم ټولګی پیل
کړ، خو زمونږ حاضري پاتې وه،
ځکه اول نومره مو نه راتلله
ښوونځي ته، له پلار نه یې د
لیسې مدیر پوښتنه وکړه چې
صلاح الدین ولې نه راځي، پلار
به یې ورته ویل چې هغه څه
ناروغ دی، د درملنې لپاره یې چرته
لیږلی، خو خبر نه و چې صلاح
الدنی به نور ښوونځي ته د تل
لپاره رانشي، دوه کاله روسته دا دی
نن راسره مخ شو، ما ښه په
ځیر ځیر ورته کتل، یو دم مې
ژړاوو زور واخیست، غیږه مې خلاصه
کړه، او دواړه لکه لیوني یو بل ته
ور غاړه غړی شوو، ډیر ساعت مو
یو بل په غیږ کې کلک نیولي وو،
ما ته به یې چې مسیح را په
یاد شو، نو ژړا به مې زور واخیست
ځکه پوهېدم چې نن یې ولې
وروستی دیدن دی، پوهېدم چې
صلاح الدین داسې لار انتخاب کړې

چې تلونکي يې بيرته نه راستنيږي، پوهيدم چې صلاح الدين به بيا نه وينم، بيا به يې مخته نشم کتلای، بيا به دا نوراني حسن، دا د تقوا او شجاعت غر نه وي، دا ميړنی غازي به د استشهاد د سپينې لارې مل وي، پوهيدم چې بيلتون به مې پر زړه سوری سوری کړي، ژړا مې هيڅ نه دريده، آخر صلاح الدين خپل ځان يو څه سمبال کړ، ويل وروره دا اوس ته څه کوې، اخر نارينه يو، سړي يو، بايد په دې لاره کې د ژړا پر ځای خوښي وکړو، خو زما زړه چرته تم کېده، بيا مې هم سلګۍ نه دريدې، صلاح الدين په لپه کې اوبه راوړې، زما پر مخ يې واچولې ايله لږ را څک شوم، ځان مې ټول کړ، ډيره ګړۍ دواړه غلي وو، دواړو يو بل ته کتل، د يو بل په ديدن مو سترګې ښې يخې کړې، اخر صلاح الدين وخندل، ويل ناځوانه پوښتنه دې هم نکوله چې دا چرته ده، زه ورته بيخي بې ځوابه شوم، ماښام لمونځ مو د چينې په غاړې وکړ، همالته کيناستو، صلاح الدين په لنډو ټکو کې خپل داستان شروع کړ، ويل يې:

انسه وروره! معلومه نه ده چې زما د شهادت غږ به څه وخت درته راورسيږي خو کېدای شي مياشت وخت وانخلي، دا هم معلومه نه ده چې زه به په کومه خاوره شهيديږم، له مسيج نه به پوه شوی يې، د ډيرو خبرو ماته هم اجازه نشته، بس خاص زما پلار، مور او ته خبر يې، نور پر کلي او کور هيڅوک هم نه پوهيږي، ګوره وروره که زما له شهادته خبر شوې، نو ونه ژاړې، بلکې زه غواړم چې څنګه مې په دنيا کې ملګری وې، همداسې مو پر جنت کې هم ملګرتيا وي، زه نه درته وايم چې ته هم استشهادي عمليات ترسره کړه، خو د جهاد لاره مه پريږده، د ښوونځي په درسونو کې پوره کوښښ کوه، هو رښتيا د ټولګي اول نومره مو اوس څوک دی، زه داسې خجالته غوندې شوم، ځکه دی زمونږ اول نومره او زه دوهم نومره وم، نو په عاجزۍ مې ورته وويل، زه يم وروره، په غيږ کې يې کلک ونيولم، ويل زما هم همدغه اټکل و، ويل وروره ما مې خپل پلار ته ستا په اړه ډيرې خبرې کړې، هغه دې هم هر وخت صفتونه کوي، کله دې چې د جهاد اراده وکړه بيا زما پلار سره مشوره وکړه، صلاح الدين د خپل تېر ژوند داسې خاص څه راته ونه ويل، پوهيدم چې د ژوند تر شاه يې ډير مهم رازونه دي، ما هم ډير نه تکليفاوو، تقريباً يو ساعت راته وغږيده، ما به يې د بدن هرې برخې ته بيل بيل کتل، اوښکې به مې په سترګو کې را ډنډ شوې، خو غږ مې له خولې نه وته، اخر يې ويل چې انسه وروره زه ځم چې پلار دوی به مې په اندېښنه کې وي، که ته هم له ماسره ځې نو د شپې به

مې له آغا جان سره ښه ساعت
تېر شي، د انس دوی کور د سپينې
چينې سره نږدې و، يو ځل خو
مې اراده وکړه چې ورسره ولاړ شم،
پر ديدن يې ځان موړ کړه، بيا
به نه وي او آرمان به يې کوې،
چاپې بيخي ډېرې لوېدې، ډارېدم
کومه پېښه ونشي، خاص دومره
مې ورته وويل خير يوسې، نور
مې پر ژبه الفاظ نه وو، غيږه يې
خلاصه کړه، د خدای پامانۍ په
دستور مو بيا ښې اوښکې سره
تويې کړې، صلاح الدين مې
لاسونه کلک نيولي وو، داسې
خوشبو ترې تله تا به ويل چې دا
اوس انسان ده که د بلې دنيا کوم
نوراني مخلوق، مسکی شو، پر اوږه
يې وټپوولم ويل، انس دعاګانې
کوه، ولاړم، ما هم ورپسې کتل،
له پښو مې دمه ختلې وه، سترګو
کې مې اوښکې وچې شوې وې، پر
ځمکه کيناستم، د صلاح الدين
قدمونو پسې مې کتل، ځان ته
مې زړه بد شو، چا چې بيلتون
ليدلی وي د داسې حالاتو اټكل
کولای شي، د الهی مينې قوت، د
انسان دا ساده فکر نشي
تعبيرولای، ما به د مينې
داستانونه اورېدل، ولې نه
پوهيدم چې عشق او محبت څه
ته وايي، د صلاح ادين په زړه کې
د الله ﷻ مينې داسې غزونې کړې
وې، چې د دنيا هر ډول مينې او
محبتونو ورته سلامي کوله،
استشهاد د الهی مينې وروستی حد
دی، بيخي عجيبه امتحان دی، داسې
چې پرته له استشهادي مجاهد بل
څوک يې تصور لا نشي کولای.

زه لا همالته ناست وم، چې ټليفون
ته مې بل مسيج راغی، چې ومې
کوت بيا هماغه نمبر و، ليکلي يې
وو، انسه ناوخته ده، کور ته ولاړ
شه، مور او پلار به درته په
اندېښنه کې وي، صلاح الدين چرته
ناست و، او زه يې ليدلم، بيرته مې
ورته وليکل، ته هم ولاړ شه
بدکه، له دې خبرې سره مې
ناڅاپه په شونډو مسکا راغله، زړه
مې داسې خلاص غوندې شو،
پاڅېدم او د کور پر لور رهي شوم،
سائيکل مې برق نه درلود، په
څه خوارۍ مې کور ته ځان
ورساو، دروازه مې وټکوله موركۍ
مې غږ وکړ څوک يې؟

ما چې ځواب ورکړ نرمه يې د کور
دروازه را خلاصه کړه، ويل زويه
څومره دې ناوخته کړه، ته خو
کورس ته تللی وې، تر اوسه چرته
وې، ما ورته وويل چې د سليم دوی
سره وم، سليم زمونږ ګاونډي و، د
قرآن کريم حافظ و، او په ټولګي
کې تر ما درې نومرې وروسته و،
ويل راځه زويه، بايسکل مې په
برنډه کې ودراوو، مور مې بيا غږ
راباندې وکړ، ويل ورځه زويه
کوټې ته، پلار دې تيار دسترخوان
هوار کړی، زه ډوډۍ دروړم.

ادامه لري...!



په معاصر جهاد کې د غزوة الهند ځانګړتیاوې

عزیز الدین مصنف

کله چې امریکایانو په عراق یرغل یووړ نو د عراقیانو له سختو تندریزو بریدونو سره مخ شول، عراقیانو ځانونه د هغوی په منځ کې والوزول تر دې لا سخته دا چې ټولې کورنۍ ښځو، ماشومانو، سپینږیرو او ځوانانو به یو ځای عملیات کول، د عراق جهاد د خرپ او ترپ جنګ وو، عراقیان مجبور ول تر څو په لومړي ګوذار دښمن را وپرځوي ځکه پر دوهم قدم کې یې بیا د تلفاتو فیصدي حد اکثر ته رسېدله، سهار او ماښام به غزا وه، نه پکې اوږده اوږده تشکیلونه وو او نه هم ځپاره قطعات، بس چې د هر چا به وس بر و همالته به یې امریکایي وژلی و.

تر دې ور هاخوا کله چې د افغانستان جهاد پیل شو، ډېر ګرندی وو، مرحوم ملا صیب په ډېرو محدود ځواکونو وکولای شول چې میدان په واک کې واخلي او دغه مبارکه جګړه مهار کړي، که تاسو فکر کړی وي د د لومړنیو کلونو د مجاهدینو عقیده کلکه، مضبوطه او بیخي تر ډېره استقامتي وه، عملیات به یې وقفه یي ول خو سخت تندریز ګوذارونه به یې دښمن ته ورکول، بوش چې په هغه وخت کې د امریکا ولسمشر وو د ملا صیب عملیاتي پلانونو یې پښې سستې کړې وې، مرحوم ملا صیب رح هم وخت په وخت خپلو پوځیانو ته د پرمختګ امر کاوو، ژمی، اوړی هر وخت به د عملیاتو راپورونه اورېدل کېدل، مانا دا چې جهاد بیخي لاس په لاس وو، دښمن به کلي ته راغی او مجاهد به د خپل کور مخته په مین والوزاوو یا به یې کمین پرې وواهه.

د لوی ملا صیب تر رحلت وروسته شهید منصور صیب د قطعاتو تشکیل رامنځته کړ، استخبارات یې بیخي له نظامي تشکیلاتو وو ایستل او ځانته یوه خاص سیستم کې یې د فعالیت طرحې ورته جوړې کړې، د جهاد نوي محاذونه یې رامنځته کړل او د اسلامي زعامت له ټولو اړخونو سره مخته تلو، تر فتوحاتو پورې د شیخ صیب حفظه الله په اطاعت کې هماغه د منصور صیب په لاره یون وو، مانا دا چې جهاد ډېر چټک او ګرندی مخته روان وو.

تشکیل به ایله یوه ورځ واخیستله، نور به د عملیاتو ترتیبونه پیل شول، دا ډول جګړه چې د انغماسي عملیاتو یو نوي

ډول ته ورته وه، افغان مجاهدینو پکې سختې بریاوې تر لاسه کړې، چې پایله یې د ټول هیواد په فتحه بدله شوه، د سوریې اوسنۍ جګړه چې د خوارجو، شیعه روافضو، اسرائیلو او بهرنیو یرغلګرو پر خلاف روانه ده عیناً د افغانستان د جهاد وروستنیو کلونو ته ورته ده، الله ﷻ دي د عرب مجاهدینو متې او همتونه مضبوط لري.

#غزوة_الهند

دا غزا چې د اسلامي نړۍ د جهاد له پرانیستو محاذونو څخه ګڼل کیږي، له پخوانیو ټولو هغو سره ډېر توپیرونه لري چې په لاندې ډول یې یادونه کوو.

تر ټولو مهم او لومړی نړیوال جهادي فکر دی، دا چې د غزوة الهند غزاء د پاکستان له جمهوري او طاغوتي نظام او پوځ سره له مبارزې پیلیږي، د هند او سیمې هیوادونو تر فتوحاتو به غزوونه کوي، نو همدا علت دی چې دا غزاء به له ځان سره ډېرې نادرې هم لري، هغوی چې د اقصی د فتحې خوبونه ویني ضروراً باید د دغو مبارکو غازیانو مل شي.

دوهم : تعرضي جنګونه ډېر وخت اخلي نو همدا وجه ده چې سختو استقامتونو او صبر ته اړتیا ده، حالات بیخي ابتدایي دي، له اراضي سره مجاهدین نه وي بلد، بله خبره دا چې هیڅوک د راتلونکي اټکل نشي کولای، یواځې په شهادت مین ځوانان دي چې د وزیرستان په هسکو یې د دښمن د مورچلو ښکار ته اړولې ده.

دریم : هغه کسان چې تازه دمې وي هغوی ته نده پکار چې له عجلې څه کار واخلي، ځکه چې هر تشکیل تر میاشتې ډېر وخت اخلي نو هغوی چې په تنګ شي د نورو ملګرو مورال ورسره کمزوری کیږي، بله خبره دا ده چې، حد اقل باید ځانونه ښه ډاډه کړي، د راتلونکو حالاتو احتمالي فیصدي و ارزوي تر څو په راتلونکي کې له کومو ننګونو سره مخ نشي.

ځکه چې په شپو شپو مزلونه او لوږې تندې پکې لازمې دي.



اقصی آزادي غواړي، خو څنګه!؟

عابد راهي



ای مجاهده وروره !

ای د الله تعالی د سپین او سپیڅلي دین سپاهي!
ای د الله تعالی د سپیڅلي او عظیم نعمت شهادت غوښتونکیه!
ای د اقصی د خلاصون په ارمان ژړېدونکیه!

که چېرته ته د غاصبو یهودو څخه د اقصی خلاصون د الله تعالی د سپیڅلې رضاء د حصول او أعلاء کلمة الله په خاطر کوې؟
د ټولې کفري نړۍ د کفارو لخوا د فلسطین پر مظلومو مسلمانانو روان ظلم، وحشت او بربریت دې وینه په جوش راولي، او ستا مقصد هم رضاء الهي وي، نو بیا ولې خپل نږدې ګاونډ پاکستان کې "لال مسجد" چې همیش په وینو سور وي، نه وینې!؟



کله دې هم د پاکستان په خاوره روانو وحشتونو وینه په جوش راوستې ده!؟
څه وجه ده چې په پاکستان کې په حق پرستو دیني عالمانو، رباني علماء کرامو، سپین ګیرو او په با حیاء تورسرو باندې د طاغوتي او جمهوري نظام او پوځ له لوري روان وحشتونه ستا وینه په جوش نه راولي!؟

نو ای مسلمانه مجاهده وروره! لږ فکر وکړه!!!
چې آیا د اقصی د خلاصون او ازادۍ زمونږ او تاسې تر غوږونو نه وي را رسېدلی!!؟
هغه چې د خپلې منحوسې، ظالمې، وحشي او کفري څېرې څخه د مخ اړولو په پار یې د هر مخلصه مجاهد غوږو ته په شعوري او غیر شعوري توګه دا خبر ور رساوه، چې اقصی آزادول غواړي.

ای مسلمانه مجاهده وروره! په ظاهره ځلیدونکې خو په پټه دا منحوس پلان د هغه چا دی، چې په پاکستان کې به یې جهادي نظریه لرونکو او د اسلامي نظام غوښتونکو ته همیش ویل چې په افغانستان کې ظلم روان دی، امریکا یرغل کړی دی، جهاد فرض عین دی،

کشمیر کې د هندوانو له خوا پر مسلمانانو ظلم کیږي، خلاصه دا چې هر چا به چې جهادي نظریه

لرله، مؤمن به و، اسلامي نظام به يې غوښت، د اسلامي أمت د تېر برم د بيا اعادې ارمانجن به و، په مظلوم او محکوم اسلامي به يې خوا بدېدله، نو افغانستان يا کشمير ته به يې لېږلو، يواځې او يواځې پدې خاطر چې د خپل کړي وحشت، ظلم او کفر په خلاف يې ځوک راپورته نشي.

دا چې اوس څه باندې دوه لسيزې وروسته د عجمو او عربو، پښتنو او فارسيوانانو، بلوڅو او پنجابيانو بلکې د ټولې نړۍ د مسلمانانو په اجتماعي کوښښونو، قربانيو، هجرتونو، جهادونو، شهادتونو او ډول ډول بې دريغه سرښيندنو په نتيجه کې افغانستان فتح شو، اسلامي نظام حاکم شو، اوس نو د نړۍ دا يواځينی اسلامي نظام اسلامي امارت "أعزها الله" چې د زرهاوو شهيدانو په بدل کې لاس ته راغلی، ټول پدې پوهېږو چې دا سپين سپيڅلی نظام استحکام غواړي، د سرحداتو او ټولو داخلي او خارجي کفري استخباراتي کړيو لاس پرېکول غواړي، او د دې ټولو پيل به د پاکستان د اجيرې استخباراتي ادارې او پوځونو څخه کېږي، او دښمن هم پدې پوه شو، چې دا دی اوس د افغان مؤمن او غيرتي ولس او مجاهدينو سترګې هم د خپل پخواني دښمن پر لور شوې، نو دې ابليس شکله دښمن د اقصی له تازه پيښې چې کلونو را هيسې پکې داسې وحشي چلند روان دی، ناوړه ګټه پورته کړه او دغه اوازه يې هرې خوا ته خپره کړه چې اقصی د يهودو د منګولو او پنجو څخه خلاصون او ازادي غواړي.

دا پدې خاطر چې ستاسو مخ او توجه د خپل ځان څخه واړوي، تا په نورو فروعي او ضمني چارو کې مصروف وساتي، لومړيتوبونه درڅخه هېر کړي او ستا د نظام پښې ووهي تر څو خپل تش شوی جېب يو ځل بيا د ځو ډالرو څخه ډک کړي.

خو ګوره! ستا څخه بايد هغه ظلمونه او وحشتونه چې زموږ او ستاسې د امارت په مشرانو يې کړي، هېڅکله هېر نشي!

لاړ شه! او څو شيبې له ملا عبدالغني برادر حفظه الله سره کېنه، ترې واوره چې په اړه يې څه درته وايي، څه يې ورسره کړي، ولې يې ورسره کړي؟
له مولوي عبدالسلام ضعيف څخه يې وپوښته چې څه درباندې تېر شول!؟



ملا عبدالغني برادر حفظه الله



او يا هم لاړ شه! د وخت د مقرر او
د اسلام د ستر داعي الحاج استاد
محمد ياسر د کورنۍ څخه وپوښته
چې څه مو ولېدل، څه درسره
وشول او ولې درسره وشول!؟
او له دې وروسته بيا د اقصى په
لور وکوچېږه!

مجاهده وروره!

که د اقصى هغه جومات وينې،
نو د پاکستان په لسهاوو هغه
جوماتونه او مدرسې چې د دې اجيرو
او ظالمو پوځونو له لوري د هيواد
په لر او بر کې په شهادت
ورسېدې، ويجاړې شوې او د ډېرو
معصومو شهيدانو په وينو رنګينې
شوې، هغه نه وينې!؟
که د فلسطين هغه مسلمانه خور
دې زوروي؛ نو د خپل نږدې ګاونډ
هغه مسلمانه خور چې ستا په
دفاع کې يې خپل خاوند، ورور او
پلار له لاسه ورکړي، د دې خور
مظلوميت دې ولې نه زوروي!؟


اسلام آباد


فلسطين

پداسې حال کې چې د نبوي
ارشاداتو له مخې بايد د خپل
نږدې مؤمن مسلمان ورور او خور
مرسته وشي.
نو لږ فکر وکړه!
چې په ټولې نړۍ کې د معاصر


فلسطين



اسلام آباد

جهاد د فتوحاتو دروازه همدا د
پاکستان جهاد دی، که چېرته الله
تعالى ستاسې په متو په په
پاکستان کې د د فتحو دروازې
خلاصې کړې، کفر ونړېد،
ډيموکراسۍ کونډه شوه، اسلام آباد
د ملعون جمهوريت په ځای د
اسلامي په مبارکو رنګينيو منور
شو، نو دا ومنله چې په منځنۍ
آسيا کې مظلوم اسلامي أمت نجات
ومومند، نو پدې وخت به بيا موږ
او تاسې وکولای شو چې په ګډه د
فلسطين او اقصى په لور خپل
تشکيلات وغځوو.

بإذن الله

زما مرشد

عمار خراساني

د ځلورو شهیدانو پلار، د دوه شهیدانو ورونو دریم شهید ورور، د شهیدې مورکۍ زوی، د شهیدې بي بي او شهید صوفي صیب زوم، د لسهاوو استشهادیانو سالار، د تقوی او ایمان غر، د غزوة الهند د غازیانو هغه سپه سالار چې له ایماني، تندریزې، او جهادي جذبې له ګزارونو ځکه به یې کفر او طاغوت په لړزان و، هغه چې خپل ملګري او وروستی نسل یې د اسلام په حقیقي مانا پوه کړ، هغه چې بیان او وینا ته به یې سترې سترې علمي هستۍ عاجزې وې، هغه چې د شهید أمیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رح سره یې تر اخیره پورې خپله ریښتیني ملګرتیا د الولاء والبراء د عقیدې په پار وپاله، هغه چې د خپلې مهاجرې قافلې په سلهاو جنتي او یوسف مخي ژني یې د اسلامي امارت په قیام او نفاذ کې د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رح په امر قربان او لولپه کړل، هغه چې د رب ذو الجلال د عظیمې رضاء او په خپله خاوره د اسلامي نظام د قیام په خاطر یې



تقبله الله
طالب حق مولانا فضل الله خراساني

خپل کلی ،وطن ،کور، اولاد او هر څه قربان کړل،
هغه چې د پښتونخوا اسمانڅکي غرونه او د سوات شنې درې یې د کفري، جمهوري او طاغوتي نظام ساتونکو ته د دوزخ ګندې وګرځولې، هغه چې د روژې مبارکې میاشتې په 29مه ورځ د کوچنۍ اختر په شپه د د شپې په لسو بجو د امریکایي څارګرې ډرون الوتکې په یو ناڅوانه برید کې له خپلو خپلو څو نورو ملګرو سره د پنځو ګزارونو ښکار او په دیار هجرت کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد،
نحسبه كذالك والله حسيبه.

د سرسایۍ (صدقة الفطر) احکام

عبدالمالک همت

د سرسایۍ یا صدقة الفطر د نوموني لامل:

سرسایه پښتو لفظ دی چې معنا یې ده د انسان د سر خیرات او د صدقة الفطرمعناده د روژې د ماتولو یا د روژې تر بشپړېدو وروسته خیرات. څنګه چې دغه خیرات یا زکات د رمضان المبارک د میاشتې د روژو تر پوره کولو وروسته د خوښیو او شکر اداکولو په توګه ورکول کیږي، ځکه نو صدقة الفطر ورته وایي. همداراز سرسایه د رمضان د میاشتې د روژو نیمګړتیاوو او تېروتنو کفاره هم ده. لکه چې له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: سرسایه د روژه نیوونکي د ناسمو خبرو او فحش ویلو څخه د پاکولو لپاره او مسکینانو ته (لږ تر لږه د اختر په ورځ د ښو) خوړو ورکولو په موخه فرض سوې ده. که یې څوک د کوچني اختر تر لمانځه دمخه ورکړي، نو به منلې سرسایه وي او که یې د اختر تر لمانځه وروسته ورکړي ، نو دا به له خیراتونو څخه یو خیرات وي.

(ابوداود، کتاب الزکات، باب زکات الفطر، 1609 حدیث).

صدقة الفطر واجب ده:

د احنافو په نزد (زموږ په مذهب) سرسایه واجب ده، خو د نورو مذاهبو علمایې فرض ګڼي، ځیني مالکیان او اهل ظاهر یې سنت مؤکده بولي. کله چې روژه فرض سوه، سرسایه هم د زکات تر فرض کېدو دمخه د هجرت پر دوهم کال د برات (شعبان) په میاشت کې واجب سوه.

سرسایه پر چا باندي واجب ده؟

د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د مذهب سره سم پر هر مسلمان، نارینه وي، که ښځه، لوی وي که کوچنی، روژه یې نیولې وي که یې نه وي نیولې که دغومره شته ولري چې د ده له اړتیاوو څخه زیات وي او دغومره شته او اسباب ولري چې پر بیه یې زکات واجبیږي، نو پر هغه باندي د کوچني اختر په ورځ سرسایه واجب ده، دغه شته د سوداګرۍ لپاره وي یا نه وي، کال پر تېر سوی وي که نه وي.

د نورو عالمانو په اند د سرسایې د وجوب لپاره د زکات د نصاب څښتن کېدل هم شرط نه بلل کیږي، د دوی په اند د چا سره چې د ده او د

د سرسایې (صدقة الفطر) احکام

عبدالمالک همت

ده تر کالخوایی(کفالت) لاندې کسانو لپاره تر یوې ورځې او یوې شپې زیات خواړه وي، نو هغه دی د خپل ځان او کورنۍ د غړو سرسایه ورکړي.

څوک باید د چا له خوا سرسایه ورکړي؟

د سرسایې د ورکولو سبب خپله ورکوونکی شخص او هغه کسان دي چې د هغو نفقه پر لازمه ده او دی بشپړ ولایت پر لري، ځکه نو پلار باید د خپلو کوچنیو اولادونو سرسایه ورکړي، خو که اولادونه شته ولري، نو سرسایه به د هغو له شتو څخه ورکوي.

د مېرمنې سر سایه پر مېړه باندې نه ده واجب، خو که احسان ورسره کوي، د ده له خوا د هغې سرسایه ورکول جواز لري.

همدارازپر پلار باندې د لویو باشعورو اولادونو سرسایه ورکول لازم نه بلل کیږي، خو که احسان ورسره کوي جواز لري، اما که اولاد اړ یا لېونی وي، نو پر پلار باندې د هغو له خوا سرسایه ورکول واجب بالله سي.

د یتیم او لېوني سرسایه دي د هغو له شتو څخه ورکړه سي، خو که شته نه لري، نو سرسایه دې هغه کسان ورکړي چې خوراک او نفقه یې ورکوي.

د سرسایې د د ورکولو مستحب وخت:

د سرسایې د ورکولو اصلي، ښه او د فضیلت مهال د کوچني اختر د ورځې سهار، عیدګاه ته تر تللو دمخه دی او دا ډېر فضیلت لري، خو د روژې په وروستیو ورځو کې هر وخت ورکول کېدای سي.

د چا چې د اختر تر لمانځه دمخه د سرسایې ورکول هېر سي:

که د چا په یاد نه وه چې د اختر تر لمانځه دمخه سرسایه ورکړي، ګناه نه لري، ځکه دي په هېره سره معذور بالله سي، خو کله چې یې په یاد سوه سمدستي دې ورکړي، عالمانو ویلي دي چې سرسایه یې کیږي اوهیله ده چې مقبوله او سمه سرسایه وي.

د سرسایي (صدقة الفطر) احکام

عبدالمالک همت

که چا فکر کاوه چې د ده سرسایه بل څوک ورکوي، خو نه یې وه ورکړې هم یې دغه حکم دی او هر وخت چې پوه سو چې د ده له خوا یې سرسایه نه ده ورکړې سمدستي دې خپله ورکړي.

که چا په کوم بل عذر ونه کولای سول چې سرسایه تر کوچني اختر دمخه ورکړي او بیا یې ورکړه پروا نه کوي.

که چا د ځان او خپلو اړوندو کسانو له سرسایې څخه یوه اندازه نږدې بې وزلو ته تر اختر دمخه ورکړه او نوره یې ځینو نورو بې وزلو ته – کوم چې حاضر نه وه – د ورکولو لپاره وساتله، نو په دې کي څه ستونزه نسته د اختر تر لمانځه وروسته دې ورکړي.

څوک چي سرسایه په قصد سره د اختر ترلمانځه دمخه ور نه کړي:

د اختر تر لمانځه دمخه په قصد سره د سرسایې نه ورکول جواز نه لري، په دې کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم له امر څخه مخالفت راځي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کړی دی چي سرسایه دې د اختر لمانځه ته د خلکو تر روانېدو دمخه ورکړي.

له دې امله که څوک بې له کوم معقول عذر څخه داسي وکړي نو ګناهکار کیږي، باید الله ته توبه وکاږي او سرسایه هم مستحقو کسانو ته ورکړي. په دې صورت کي هیله سته چي خدای یې وبخښي.

د سرسایې اندازه:

د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد که څوک صدقة الفطر په غنمو ورکوي، نو پر یوه تن د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د وختو نیمه پیمانه غنم یا اوړه کیږي.

خو دا چي دغه پیمانه په اوسمهالي وزن چي کیلوګرام دی، څونه کیږي، په دې اړه عالمان په یوه خوله نه دي. ځیني عالمان یوه پیمانه دوه نیم کیلو بولي. ځیني یې څو ګرامه کم څلور کیلو ګڼي. ځیني یې درې کیلو او پنځه سوه ګرامه بولي. عرب عالمان یوه پیمانه تقریباً درې کیلوګرامه ګڼي. ځیني یې هم څلور کیلو او پنځوس ګرامه ګڼي او وایي چي یوه پیمانه دي احتیاطًا

د سرسایې (صدقة الفطر) احکام

عبدالمالک همت

څلور کیلو او څلورشپېته ګرامه وشمېرل سي. د کندهار او د هغه د شاوخوا ولایتونو خلک د یوه تن سرسایه نیم من غنم د کندهار په منه ورکوي او د کندهار من څلورنیم کیلو دی. چې په دې حساب دوه کیلو او دوه سوه پنځوس ګرامه غنم یا اوړه او یا یې بېه د یوه تن سر سایه بلل کیږي. زما په نظر دغه د کندهار د خلکو وزن سم برېښي. والله اعلم.

په سرسایه کې نغدي پیسې هم ورکول کېدای سي:

د حضرت امام ابو حنیفه، حضرت امام بخاري، حضرت عمر بن عبدالعزیز، حضرت حسن بصري او ډېرو نورو عالمانو رحمهم الله په نزد دغلې بیه هم په سرسایه کې ورکول کېدای سي. خو د سعودي اوسمهالي عالمان په سر سایه کې نغدي پیسې ورکول ښه نه ګڼیاما نورو ډېرو عالمان د نن مهال اړتیا ته په کتو سره وایي چې د غلې پر ځای د هغې بیه ورکول هم آساني راولي اوهم بې وزلو ته ګټوره ده.

پر دې کېدای سي چې د د دوو کیلو او دوو سوو پنځوسو ګراموغنمو بیه د بازار په

نر خو سنجول سي او مستحقو کسانو ته ورکړل سي.

البته شتمن خلک باید په سرسایه کې د لوړ بیې شي، لکه د خرما او کشمشو قیمت ورکړي، ځکه چې په حدیث کې راغلي دي: کله چې لوی څښتن د دنیا شته درکړي، نو په مالي عبادتونو کې توسع او پراختیا کوئ. نو که زموږ شتمن وروڼه خپله سرسایه په خرما یا کشمشو ورکوي نو دي د یوې پیمانې، یعني څلور نیم کیلو(یوه کندهاري من) خرماوو، یا کشمشو بیه ورکړي په دې به د مسکینانو یو څه ګوزاره وسي.

په سرسایه کې تر اصلي اندازې زیات څه ورکول:

کېدای سي چې یو څوک د سرسایې تر ټاکلي مقدار زیات څه د خیرات په توګه ورکړي، خو که تر ټاکلي کچې کم څه ورکړي، جواز نه لري.

کوم کسان د سرسایې مستحق دي:

سرسایه د نورو صدقو او زکاتونو غوندې فقیرانو، مسکینانو، قرضدارانو، د الله په لار کې طالبعلمانو، مجاهدینو او مسافرو

د سرسایې (صدقة الفطر) احکام

عبدالمالک همت

ته(که څه هم په خپل وطن کې شتمن وي) ورکول کېږي.
البته بې وزلو خپلوانو ته زکات او سرسایه ورکول نه داچې جواز لري، بلکې دوه ثوابه لري، یو د زکات یا سرسایې ورکولو ثواب او بل د صله رحمی ثواب. ورور، خور، اکا، عمه، ماما، خاله او د هغو اولادونه، نور خپلوان ، ګاونډیان، د خپل کلي او ښار خلک د سرسایې مستحقین دي.

کومو کسانو ته سرسایه نه ورکول کیږي:

(الف) اولادونو، مور او پلار، نیکه ګانو او اناګانو ته د زکات او سرسایې ورکول جواز نه لري.

(ب) د چا سره چې دغومره شته وي چې زکات پر واجبیږي، یا دومره شیان او اسباب ولري، چې تر اړتیا یې زیات وي او له امله یې سرسایه پر واجبیږي، نو داسې چا ته سرسایه ورکول جواز نه لري.
(ج) لېوني او داسې نابالغ کوچنې ته چې نه پوهیږي سرسایه ورکول روانه دي، خو که یې د هغو کالخواى (سرپرست) د هغو لپاره واخلي روا باله سي.
هغو کالخواى (سرپرست) د هغو لپاره واخلي روا باله سي.

د یوه تن له خوا ډېرو کسانو ته سرسایه ورکول:

که یو تن خپله سرسایه څو تنو بې وزلو ته ورکړي، جواز لري. همدارازکه څو تنه خپله سرسایه یوه مسکین ته ورکړي هم جواز لري.

له یوه ښاره بل ښار ته د سرسایې لېږل:

له یوه ښاره بل ښار یا هیواد ته د سرسایې لېږل مکروه دي، یعنې په کوم ځای کې چې سرسایه ورکوونکى اوسیږي هلته دي سرسایه ورکړي.
هو، که په بل ښار کې د چا بې وزلي خپلوان وي، یا یې خلک ډېر اړ او مستحق وي، نو هغو ته د سرسایې لېږل مکروه نه بلل کیږي.

سپین ستوري



شهید حافظ مسعود الرحمن "خالد" تقبله الله

دا چې د کابل زلمي غزاء ته ځي — حوري هم اوس کوزې پختونخوا ته ځي
ځکه مې په ژوند وریسې وژړل — پوه شومه بیا نه راځي بقاء ته ځي
هر وخت چې رایاد شې مجاهد یاره — هغه ګړۍ شونډې مې دعاء ته ځي

شهید حافظ مسعود الرحمن "خالد" تقبله الله چې یو متقي، پرهیزګاره، باحیاء وروکی و، له جهاد او شهادت سره یې بې کچې مینه درلوده، هماغه و د غزوة الهند د عظیمې قافلې مل شو، او د تحریک طالبان پاکستان په جهادي صفوفو کې یې د یو شجاع او غیرتي مجاهد په توګه په ظالم، جابر او طاغوتي دښمن ګڼ شمېر بریالي چریکي بریدونه ترسره کړل، په لسهاوو د طاغوتي نظام ساتونکي او مدافعین یې ووژل، هماغه و چې څه موده وړاندې د دښمن له لوري د یو چریکي برید پر مهال په زخمي حالت کې اسیر کړای شو، له څه مودې اسارت وروسته د ظالم او وحشي دښمن له لوري د یوې جعلي مقابلې په ترڅ کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد.

روح یې ښاد او یاد دې یې تر تله وي.

د نوموړي **شهید "حافظ مسعود الرحمن خالد" تقبله الله** پلار جان **"قاري عادل"** هم د اسلامي امارت په عظیم صف کې د امریکا او ناټو په خلاف مقدس جهاد کې په شهادت رسېدلی و.

نحسبهم کذالک والله حسیبهم



سپین ستوري

شهید مولوي محمد عمر "مهاجر باجوړي" تقبله الله

شهید مولوي محمد عمر "مهاجر باجوړي" تقبله الله څه موده وړاندې د لويې دورې د فراغت پګړۍ په سر او له مدرسې څخه يې د اسلامي أمت د تېر برم د بيا اعادې په پار خپله بستره د تل لپاره وتړله، هماغه و چې د غزوة الهند د عظيمې قافلې مل او له روژې مبارکې څخه څو ورځې مخکې د جنوبي وزيرستان په لور په تشکيل ولاړ، په ظالم، جابر او وحشي دښمن يې ګڼ شمېر بريمن او تندريز بريدونه ترسره کړل، بلاخره تېره ورځ له دښمن سره په مخامخ جنګ کې وروسته له هغه چې ګڼ شمير پوځيان، ايف سي او د SSG ايس ايس جي کمانډويان يې د جهنم کندې ته ولېږل، نوموړی رح پخپله هم د يوې هوايي څرخکې په ظالمانه بريد کې د شهادت لوړ مقام ته ورسيد، **نحسبه کذالک والله حسيبه**



د انقلاب وږمې

تللي زلمي

په شهادت پسې له کوره او له کلي تللي
الله چې کوم زلمي وو خپل ځان ته بللي تللي

د عنبر بويه خمار حسن سپېلني لېوني
هغوی د شپې د تعرض لپاره غلي تللي

هسې هم نه ده چې دې هر څوک په دې لاره درومي
ټول هغه وورکي چې په زړونو نازولي تللي

بيګا هم جنګ وو پر کمين کې يې راګير وو غليم
څو ځنېورو څو مرتد پوځيان وژلي تللي

وزيرستانه نن دې وړم د جنت نيولی
داسې ښکاريږي شهيدان درته راغلي تللي

په کومه لاره چې روان يم لا خو ستړی نه يم
په دغه لاره د اسلام په ننګ ښاغلي تللي

منصوره دار ښه ده که غېږ د موټر بم سريه
ګوره منصوره موټر بم کې اکثر ښکلي تللي

صلاح الدين منصور

Iblagh media